شهسوارسنګروال

۲۰۲۵/۰۹/۱۹

# میرویس نیکه،

## خپلواک که تولواک؟

### ۲برخه

**د کندهار پاڅون:**

د کندهار له لرغوني تاریخ نه څرګندیږي، چې د تاریخ په اوږدو کې دغه سیمه د ځانګړي ارزښت درلودونکې وه، نو ځکه خو سکندر په کندهار کې د یوی ستري کلا د جوړېدو تکل وکړ او بیا په راوروسته کې د هند واکمنو د فرانسوي انجنرانو پر مټ د سکندر کلا ورغاوله، چې په پای کې د پارس حکمران نادرشاه ونړوله.

له نادر افشار دمخه ګورګین هم د کندهار خلک په سرو وینو ولړل او د صفویانو موخه هم دا وه، چې دغه وګړي، په همداسي خونړي انسان وځپي.

ګرګین پخپله یو یاغی او باغی انسان و، هغه مهال چې دی د ګرجستان (۱۱۱۴ ه) والي وه د پاچا له امره یې سرغړونه وکړه ، نو بیا پاچا د «کنجه» والي «کلب علی خان» قاجار یې د هغه د ځپلو لپاره وګماره، ګورګین ماته وخوړه او د «تفلیس» غرونو کې پټ شو، چې په پای کې ببښنه وغوښته او د خپل وراره «خسرو خان» په مینځګړیتوب پاچا هغه وبابښه.

دمخه مو ووېل، چې کندهار د سیمي لپاره د څلور لارو ولایت په نوم نامتو وه، نو ځکه خو یو هندي مغلي پلاوی، د صفوي شاه حسین دربار ته راغی، چې کندهار وروسپاري.

صفوي سردارانو نه یوازې د دوئ غوښتني ته غاړه کېښوده، بلکې د کندهار د خلکو د ځپلو لپاره یې همدغه یاغي او خونړی انسان ګورګین ورواستوه.

ګورګین سره د دې چې دولت خان سدوزی له مینځه یوور، خو په لنډ مهال کې په ظاهره توګه میرویس خان ته درناوی کاوه، ولې کله به چې لیده هغه د خلکو له درون هر کلي سره مخ کېږي، نو بیا به یې سترګي ورته نه غړېدی،رخه یې پرې راتله، نو په دې لټه کې وو، چې څرنګه هغه له پښو وغورځوي.

ګرګین د دې لپاره چې د میرویس خان باور ترلاسه کړی وي ، تر ډېره بریده یې د ده سره سلا او مشوره کوله ، خو میرویس هوتک چې دده ظلمونه او تېروتني لېدي وررورو یې کرکه زیاتېده او ان تر دې چې نور یې دده نصیحتونو ته هم غوږ نه اېښوده چې له ظلم نه لاس په سر شي.

یو شمېر څېړونکي په دې ټینګار کوي، چې میرویس هوتک ته د ګورګین ظلمونه نور د ځغم وړ نه وه، نو ځکه یې یوه عریضه چې د قومونو مشرانو پرې لاسلیک هم کړی وه، صفوي دربار ته ولېږله، چې صفوي پاچا شاه حسین ورته نه یوازې کومه اعتنا ونه کړه، بلکې یو شمېر سردارانو چې له ګورګین سره یې ښې اړیکې درلودلې له دې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ځخه خبر کړ. یو شمېر تاریخپوهان د امنې، چې ګورګین میرویس خان او هغه چا چې په عرض پاني لاسلیکونه کړي ول اصفهان ته واستول او د سلطان شاه حسین صفوي له خوا نظر بند شول.

ولې کروسنسکي بیا په دې ټینګار کوي، چې میرویس هوتک یې په ډېر درنښت خپل «حضور ته راوغوښت، دده یې درناوی او لمانځنه وکړه، د ځان له خوا یې ډاډمن کړ، چې ته ډېر هوښیار، کارپوه او د کار سړی یې، د لویو چارو د ترسره کولو لپاره دې اصفهان ته لیږم .»[۱]

ګورګین د ده له لېږلو وروسته یو د بل پسې څو لیکونه صفوي دربار ته واستول او میرویس خان یې د یوه یاغي او باغي انسان په توګه ور معرفي کړي و.

د میرویس هوتک لپاره دا یو ښه سیاسي فرصت وه، چې له یوې خوا د ده په لېږلو نه یوازې غلجیان خواشیني شول، بلکې ابدالیان هم ځکه خپه شول، چې د دولت خان په ځېر یو بل نامتو مشر له کندهاره ووت.

په همدې بنسټ د خلکو یو والي ته یې زمینه برابره کړه چې پرته له پاڅونه بله لاره نه لري خو کله چې میرویس خان اصفهان ته لاړ نو د بشپړې هوښیارۍ له مخې د صفوي شاه حسین او نورو درباریانو باور دارنګه خپل کړ، چې څو بېلګې داسې دي:

۱- کله چې میرویس هوتک مخ په اصفهان وخوځېد نو له ځان سره یې د کشمیر وریښمن شالونه، د هند ښکلي او نفیس ټوکران، نغدې روپۍ، د کندهار په بازار کې د چین وریښمن ټانونه، ډول ډول ډالۍ او سوغاتونه له ځان سره یووړل او د شاه حسین صفوي په ګډون یې د اصفهان د درباریانو او سردارانو زړونه یې پرې خوشحاله کړل.

۲- که څه هم میرویس خان د همدې باور پر بنسټ چې درباریان په ځان ډاډه کړي ځلور واري د شاه حسین دربار ته ورغلی و، چې د خلکو ستونزې او شکایتونه له هغو سره شریک کړي.

۳- میرویس هوتک کوښښ کاوه، چې دښمن په دښمن ووهي، نو بیا یې یو لیک مغلي دربار ته، چې د اورنګ زیب یو استازی به تل په کابل کې استوګن و،واستوه، چې د ګورګین پر وړاندې ودرېږي، خو ده ددغه لیک کومه پایله ترلاسه نه کړه.

۴- نوموړي ولیدل، چې صفوي دربار په دوه ډلو وېشل شوی، ده کوښښ کاووچې هغه ډله د ځان پلوي کړي، چې صفوي شاه حسین ته نږدې وه.

د مثال په ډول، د پاچا شاه حسین ډېر نږدې ناظر او سلاکار محمد اقا دومره ځانته نږدې کړ، چې هغه اړ شو شاه حسین ته دده سپارښتنه وکړي.

په مجمع التواریخ کې کښل شوي دي، چې «دربار نه یوازې د ګورګین لیکونه بابېزه وګڼل، بلکې یو شمېر صفوي سرداران یې د هغه د سر دښمنان کړل.

بیا میرویس خان د حج د ادا لپاره مکې معظمې ته لاړ او هلته یې د ګورګین پر ضد د جهاد فتوا تر لاسه کړه.»[۲] که څه هم کروسنسکی د دې خبرې پخلي کړیدی، چې دی دومره دربار ته نږدی شوی و، چې د وزیرانو په غونډو کې ګډون کاوه .

میرویس خان د حج له ادا کولو وروسته کندهار ته راستون شواو ده ولیدل، چې صفوي دربار خپله سیاسي او سلطنتي دب دبه له لاسه ورکړي ده.

شاه حسین په سلطنتي حرمسرای کې دومره بوخت وه، چې ان د خپلو درباریانو له کړو وړو ناخبره وه، چې سرداران په څو ډلو وېشل شوي وه او خلک له ملاماتوونکي مالیه نه دومره تنګ شوي ول چې هر ډول عمل ته چمتو وه .

مرویس خان دا هم په کندهار کې ولیدل، چې خلک د ګورګین له ظلمونو نه تر پوزې راغلي ول، ابدالي او غلجي خانان دېته چمتو ول، چې یوه پاڅون ته زړه ښه کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حاجي میرویس خان چې د «جهاد» کومه فتوا له ځان سره د مکي معظمي د علماو په لاسلیک راوړې وه، نو ټولو مشرانو ته یې وښوده، او د دغې فتوا د سپېڅلتیا له مخي ولسونه یوازې د خپل مشر پرېکړې ته سترګې په لاره وه، چې په یوه ستر پاڅون لاسپورې کړي، میرویس کندهار ته په رسیدو یو ځل بیا د کندهار د ښار «کلانتر» وټاکل شو.

ښایي د دې لامل به دا و، چې یوه ورځ دی د ګورګین د وراره «دیوان بیګي» چې د «عدالت دیوان» په نوم د یوې موسسې ریس وه، لیدلو ته ورغی او د ګورګین یې ډېره ستاینه ورته وکړه، چې هوښیار او یو مدبر انسان دی .

ددې له پاره چې د دیوان بیګي او د هغه د تره باور یې خپل کړی وي، زیاته یې کړه چې د هند د مغلي پاچا د پرمختګ مخه همدې ګورګین ډب کړې ده.

د همدې باور پر بنسټ ګورګین یو ځل بیا، هغه ځان ته نږدې کړ او میرویس خان هوتک هم د خلکو په مینځ کې د حجاز د علماو فتوا چې یو معتبر او د باور وړ سند و، تبلیغوه او خپراوه یې.

میر غلام محمد غبار په دې اړه داسې لیکلي دي: «چې د فراه، سیستان، کندهار او شاوخوا نورو سیمو پښتانه، تاجک، هزاره او بلوڅان په ده راټول شول، دده په مشرۍ ملي یووالی ټینګ کړ او دی یې د خپلواکۍ رښتنی اتل وګاڼه.»[۳]

میرویس خان له یوې خوا خلک یوه ملي پاڅون ته تیارول او له بلې خوا یې ګورګین سره خپلې اړیکې دومره دوستانه کړې وې، چې د هغه هر ډول شک ته یې د پای ټکي ایښی و.

بله کومه خبره چې ډېره موهمه وه، هغه دا چې میرویس خان، چې د ګورګین وراره «دیوان بیګي» سره ولیدل، هغه یې دومره تر خپل اغیز لاندې راوستی وه، چې ده درباریانو ته په ځغر ده ووېل، زما تره یو ناپوه او احمق انسان دی .» که څو زره تومانه یې دداسې دوست د تر لاسه کولو لپاره لګولي وی، داسې رښتونی خواخوږی،

چې زیاته ستاینه یې کوي ،له ځانه مایوسه کړی دی، پاچا او چارواکو ته یې موضوع سرچپه وړاندې کړېده ... بیا یې تره ته لیکونه واستول او پره یې پرې واچوله، چې داسې هوښیار دوست چې د پاچا ټول دربار یې ستا په ستاینه ډک کړی، تا د ځانه خپه کړی او دده په خلاف دی پاچا ته شکایت کړیدی.»[۴]

میرویس هوتک ته چې د صفوي دولت هر څه په ډاګه وه او په دې پوهېده، چې د «دیوان بېګي» سره «اعتماد الدوله» ښې اړیکې نه لری او د دوئ تر مینځ مناسبات ترینګلي دي، نو بیا هغه ته ورغی او ورته وې ویل، که ګورګین په کندهار کې واک ته دوام ورکړي نو یو لوی کړکیچ او فساد به رامینځته کړي، هغه ګهیځ مست او غرمه خمار وي، د ګورجیانو له خوا پېښ شوی ګواښ د خلکو ژوند تریخ کړیدی، د خلکو په شتو یې تالان ګډ کړیدی، ډېرې خزانې یې ترلاسه کړیدي، ده د واک او ځواک د ژغورلو لپاره داسې څواکونه روزلي دي، چې د انسان ژوند ورته کوم ارزښت نه لري، او ان تر دې چې د هند له چاروالو سره یې اړیکې هم پیدا کړیدي.

اعتماد الدوله چې د میرویس هوتک خبرې واورېدی نو په ځغرده یې ووېل، پاچا یو چټل او بې کفایته انسان دی، همدا چې ګورګین یې د مسلمانانو ولایت کې د والي په توګه ګومارلی، د ډېرې خواشینی وړ دی.

حاجي میرویس خان چې د مکي او مدیني منورې له علماو سره ولیدل هم ورته ووېل، چې پر موږ افغانانو چې سونیانو یو د پارس «عجمي پاچایان» واک چلوي، زموږ سرو مال او ناموس خوندي نه دی «زموږ اولادونه په زور ګرجستان ته استوي، هلته یې پلوري، په زور ورسره نکاح تړي ، که موږجهاد وکړو، ایا مړي مو شهیدان دی؟ د دې مسایلو فتوا د حقیقت په قلم ولیکی، چې موږ خپل دیني او مذهبي مسولیت درک کړو.»[۵]

د حرمینو علماوو او مجتهدینو، چې له پارس سره یې پخوانی دښمني درلوده، میرویس خان ته یې خپله فتوا ورکړه او هغه هم بېرته اصفهان ته راستون شو او یو شمېر درباریانو ته یې په زره پورې سوغاتونه ډالی کړل.

کروسنسکي د دې خبرې پخلی کړیدی، چې د شاه عباس صفوي د واک په مهال هم د مکي معظمي پوهانود«رافضیان» پر وړاندې د «سیف »د پاڅون په پېر یوه فتوا کښلې وه، که کوم مسلمان یو مسیحي سر تېری ووژني یو ثواب او که یو شیعه ووژني اویا (۷۰) برابره ثواب ګټي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په «سقوط اصفهان» نومي اثر کې هم په دې ټينګار شويدی، چې ترکيې هم د صفوي دولت پر وړاندې هڅې کولې ، په داسې شېبو او شرايطو کې ميرويس خان هوتک (۱۷۰۹ ز) کندهار ته ستون شو.

لومړی وار ميرويس خان کندهار ته څېرمه د ارغنداب په غاړه کوکران کې يوه لويه ملي جرګه راوبلله او داسې يې وښوده، چې دی له حج نه راستون شوی دی او قومي مشران يې هر کلي ته ورغلي دي. نو بيا يې په همدې ترڅ کې خلکو ته د حجاز د علماو پريکړه او فتوا وروښوده او د هغوئ ملاتړ يې تر لاسه کړ.

ميرويس هوتک دويمه جرګه هم په پټه د کندهار ختيځ پلو په «مانجه» کې جوړه کړه، چې په دې کې ډېرو مخورو او نامتو مشرانو ګډون کړی وو، چې موږ د ميرويس خان ورور يحيی خان، سيدال خان ناصر، بابو جان بابي، حاجي انګو (محمد خان) يونس خان کاکړ، بهادر خان، ملا پير محمد مياجي (هوتک)، يوسف خان هوتک، عزيز خان نورزی، نور خان بريڅ، ګلخان بابړي، نصرو خان الکوزی او نور د ساري په توګه يادولی شو.

جرګې له اوږدو خبرو وروسته په قرانکريم لاس کېښود، چې له خپلې ژمنې او لوړې به نه اوړو، نو بيا يې هغه ليکنه لاسليک کړه، چې د خپلواکۍ اعلان په کې شوی وو. ميرويس هوتک په ډېرې هوښيارۍ د پاڅون ټول اړخونه څارل او په سر کې دې پريکړې ته ورسېد چې:

۱ـ لومړی يې د ټولو قومونو په مينځ کې له يوې خوا د حجاز د علماو فتوا خپروله او تبليغو له اوله بلې خوا يې خلک ملي يووالي ته رابلل چې د خپل هېواد خپلواکي وګټي او خلک د ګورګين له شره وژغوری.

«ولې ګورګين د دې لپاره چې ځان ميرويس خان ته نږدې کړي د هغه لور يې خپل زوی ته وغوښته او ميرويس خان د هغه د باور لپاره خپله يوه خدمتګاره ورکړه او بيا يې پری بريد وکړ...»[٦]

۲- داسې انګېرنو هم شتون درلود، چې ميرويس خان کوښښ کاوه چې د کندهار په ښار کې د ګورګين د سرتېرو شمېر کم کړي او د هغوئ پوځي ځواک ووېشي او د همدې موخې له مخې د بلوڅو يوه خان د ماليې له ورکړې نه سرغړونه وکړه، نو بيا يې خپل پوځونه د هغه د ځپلو لپاره د کويټې او بلوچستان لور ته واستول. په دې اړه افغانان له پارس نه تر هندوستانه نومي کتاب کې داسې راغلي دي:

«د ګورګين د پوځ يوه لويه برخه، چې د کويټې په شاوخوا کې د کاکړستان او بلوچستان په سيمو کې د وګړو د ځپلو او وژلو لپاره، چې ماليه راټوله کړي ګومارل شوې وو، نو غوره يې وګڼله، چې اوس يې ښه وخت دی ، نو ګورګين يې بيا د خپلو موهمو جنرالانو سره يو ځای په مسلمتيا کې وواژه.»[۷]

د «تاريخ سلطاني مولف سلطان محمد هم د دې خبرې پخلی کړيدی چې د ګورګين لښکر له کاکړو او بلوڅو سره ښکيل وو. [۸] »

ميرويس خان په همدې شپه چې د ګورګين کالي او جامې يې په تن کړې وې، کندهار ښار ته ننووت او ټول قزلباش او ګرجي سرتېري يې وګواښل او وې ځپل، چې شمېر يې شاو خوا اته (۸۰۰۰) زرو تنو ته رسېده.

د افغانستان په سياسي تاريخ کې د پښتنو له سيمه ييزې واکمنۍ پرته دا لومړی ځل وه، چې په ملي کچه کندهار د پښتنو د واک او ځواک په سياسي مرکز او پلاز بدل شو، چې نه يوازې په افغانستان کې د سياسي واک ستنې ټينګې شوې، بلکې د هوتکيانو سياسي ځواک تر اصفهانه پورې وغوځېد

**ميرويس هوتک د يوه ملي مشر په توګه**

ميرويس خان چې د خلکو او بيلابيلو قومونو په ملاتړ يې ګورګين د «ارغستان په يوه بڼ کې له مينځه يووړ، د هغه له وسلو او پيسو يې ګټه واخسته او بيا له درې زره اسونو سره ښار ته مخه کړه ګورجي سر تېري يې ووژل او پر ځای يې خپل جنګيالي ځای پر ځای کړل.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

میرویس هوتک بیا د اصفهان دربار ته لیک واستوه چې هغوئ ډاډه کړي، کنی موږ اوس هم د مرکزي حکومت پلوي یو، موږ د ګورګین د ظلم خلاف پاڅون کړیدی ، که چیرې تاسو کوم پلاوی د پېښې د سپیناوي لپاره راواستوي، هر څه به په ربښتني توګه پخپلو سترګو وګورئ.

د همدې لامل له مخې صفوي واکمنودهرات والي محمد خان دیوه پلاوي په مشرۍ د خبرو لپاره د میرویس هوتک حضور ته راواستوو.

که له یوې خوا د صفوي شاه حسین دربار د کندهار له پاڅون نه خبر شو، خو له بلې خوا د تاریخپوه «خافی خان» په اند، په ۱۱۱۹ ه کال هند کې محمد اعظم شاه دربار هم د ګورګین د وژلو خبر تر لاسه کړ.

همدا راز په همدې مهال د روسي هېواد خپل یو استازی هم اصفهان ته لېږلی وو، د دغه استازي نوم «اسراییل اوري» و، په قوم ارمنی، چې د قره باغ په «قبان» کې زیږیدلی و او د روسي امپراتور «لومړي فطر» دی دېته ګومارلی وه چې د اصفهان له سلطان سره د سیاسي سوداګریزو اړیکو په تړاو خبرې اترې وکړي.

ولې پخوا له دې بریتانیه او فرانسي هم خپل سفیران او استازي اصفهان ته لېږلي ول، چې د فرانسي د استازي نوم

« موسا » و.

اروپایانو تر ډېره بریده کوښښ کاوه، چې په ا صفهان کې عیسوي کاتولیکانو کلیسا نه ساتنه وکړي، خو د روسي د استازي راتګ جنجالي و، اصفهان دی د روسي استازی نه ګاڼه ځکه چې دی ارمنی وه او پخپله یې ځان د ارمني پاچایانو له نسله ګاڼه. نو ځکه خو د اصفهان درباریانو ویل چې د روسي هېواد دې له خپل نسله څوک را ولېږي او موږ ده ته اجازه نشو ورکولی.

بله خبره چې ډېره موهمه وه، هغه دا چې دغه تن یوه موده د فرانسي په پوځ کې و، وروسته بیا اطریش ته تللی و، چې د دغه هېواد پاچا دی د روسي پاچا ته معرفي کړ او هغه بیا خپل استازی وټاکه.

فرانسي او یو شمېر نورو له ده سره لومړی دغه اختلاف درلود چې د فرانسي او اطریش تر مینځ جګړه روانه وه نو ځکه دی فرانسی ته د منلو وړ نه و. دویم دا چې داسي انګېرنې هم راپورته شوی، چې د روسي سفیر د «ارتودوکس» کلیسا په حمایت اصفهان ته استول کېږي.

د اسراییل د راتلو په مهال میرویس هوتک په اصفهان کې و، صفوي درباریانو د دغې لانجې په تړاو له میرویس خان نه سلا او مشوره وغوښته او هغه ورته وویل:

«که چیرې اسراییل نومې استازی دلته راشي، فتنه نشي جوړولی، کیدی شي چاره یې وشی او که د راتګ اجازه ورنکړی شي د روس پاچا به دا کار ونه ځغملی شي...»[۹]

د دې لپاره چې میرویس هوتک صفوي درباریان په ګورګین بې باوره کړي وي ورته په ټینګار وویل، دا چې ارمنیان په اصفهان کې ډېر دی او ګرجستانیان ټول ارمنیان دي او د ګورګین خان وروړ «زرمیخان » دا دستې د روسي له پاچا سره دی، نو بیا به یې ګرجستان ته راواستوي او ارمنیان به ورسره مل شي او که چیرې ګورګین خبر شي، نو له یوې خوا به د افغانانو ملاتړ خپل کړي په داسي حال کې چې زه له کندهار څخه شړل شوی یم او بل به د هند مرسته تر لاسه کړي نو د ډېرو خزانو، وسلو او پیسو پر مټ به یو لوی ګواښ اصفهان ته پېښ کړي.

کله چې میرویس خان ګورګین له مینځه یوړ، نو صفوي دربار یې لا دمخه خپلې څرګندونې د ګورګین په تړاو د دوی غوږونو ته رسولې وې همدا سبب وه دوی دی پایلې ته ورسېدل چې محمد خان کندهار ته ولېږي.

د «لاکهارت» د څرګندونو له مخې، میرویس د بیلابیلو پلمو له مخې محمد خان او پلاوی په کندهار کې بوخت کړل، چې اصفهان روان کړکېچ نه خبر ترلاسه نه کړي. لاکهارت په دې هم ټینګار کړیدی دی، چې د ګورګین د وژلو پېښه په ۱۷۰۹ ه کال د اپریل په وروستیو ورځو کې پېښه شوه. ده دا هم ویلی دي چې اصفهان دوه پلاوي یو د بل پسې کندهار ته واستول، چې د میرویس خان له خوا زنداني کړی شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړی پلاوی د محمد جاني خان ایلچي په مشرۍ کندهار ته راغی او ژمنه یې وکړه، که چېرې میرویس خان هوتک صفوي پوځ کندهار کې ومني، نو شاه حسین صفوي به د ګورګین له کسات او غچ اخستو نه تېر شي .

(څو« تتمة البیان» دغه شخص د محمد جامي خان په نوم نوموړی دی.)

وروسته د هرات والي محمد خان بلوڅ، چې دده د حج ملګرې و کندهار ته راواستوه، ولې میرویس خان له خپل هوډه نه پر شا نشو. په ۱۸ میاشتو کې څلور وارې صفوي پوځونو پر افغانستان برید وکړ، نه یوازې د افغانانو مشر پخپلو شا و خوا پنځه زره (۵۰۰۰) جنګیالیو برۍ ترلاسه کړ او د هغوئ پوځي فشار ته تسلیم نشو، بلکې د خپل واک او ځواک لمن یې تر فراه پورې وغوځوله.

هغه وخت چې میرویس نیکه د خپلواکۍ ملي پاڅون برې ته ورساوه، نو بیا یې درېیمه جرګه راوبلله او خلکو ته یې خپل سیاسي دریځ څرګند کړ او دا یې هم ورته ووېل، چې موږ د دوه سترو ښکیلاکګرو په مینځ کې پراته یو، خو که چېرې تاسو زما ملا وتړئ، نو د خپلواکۍ بیرغ به همداسې هسک وساتو.

**دمیرویس خان بهرنی تګلاره**

میرویس خان په بهرني سیاست کې د هند د ګورګاني دربار ملاتړ ترلاسه کړ، که څه هم د تاریخ په رڼا کې دا وېره ورسره وه، که په ټول افغانستان کې یو ځواکمن واکمن قدرت ته ورسېږي، دوئ ته به په راتلونکې کې یو ګواښ پېښ کړي. خو دوئ کوښښ کاوه، دښمن په دښمن ووهي ،همدا لامل وه په پټه یې اصفهان وهڅوو، چې د کندهار پاڅون وځپي.

که څه هم کروسنسکي په دې اند دی، « کله چې میرویس د کندهار «کلاې جنګي» ونیوله، نو بیا یې د هند پاچا نه د یوه لیک په ترڅ کې د پوځي مرستې غوښتنه وکړه. »

صفویانو ته چې د کندهار جغرافیوي ارزښت څرګند و، نو بیا یې د ګورجي خسرو خان په مشرۍ یو دېرش زره کسیزه لښکر کندهار لور ته راوخوځوه.

صفوي ځواکونه له دوه ډلو مرکب وه، یوه ډله د ګرجي جنګیالیو وه او بله ډله د عباس قلی په مشرۍ د قزلباشانو وه، خو د دې دواړو ډلو جنګیالي د خسرو خان په مشرۍ او قومانده جنګېدل.

صفوي شاه حسین د دوئ د پوځي لګښت لپاره دوه سوه شپېته زره (۲۶۰۰۰۰) تومانه د سرو زرو سیکې ورکړې، چې په دې کې دوه سوه زره تومانه قزلباشو پوځونو او شپېته زره نورې یې د کیخسرو د لګښت لپاره بېلې کړې. نو بیا صفوي دربار خسرو خان ته ووېل، که غواړې، چې د خپل تره ګورګین غچ او انتقام واخلې، نو باید میرویس خان لاس تړلی اصفهان ته راولې.

د هوتکیانو په تاریخ کې عبد الروف بینوا لیکلی دي، چې د اصفهان لښکر په ۱۱۲۳ ه (۱۷۱۳ ز) کال مخ په کندهار وخوځېد. ولې کروسنسکي دغه نېټه ۱۱۲۴ ه (۱۷۱۴ ز) په ګوته کړیده.خو لاکهارت کاږلي دي، چې صفوي ځواکونه په ۱۷۱۰ ز کال د نوامبر په میاشت کې فراه ته ورسېدل او تر یو کال (۱۷۱۱ ز) پورې همدلته پاتې ول، تر هغې چې د ابدالیانو ځواکونه د برغمل شوي زمان خان له خوا هرات نه د دوئ ملاتړ ته راورسېدل او بیا یې په ګډه مخ په کندهار حرکت وکړ. ( ددولت خان زوې زمان خان له صفویانو سره یرغمل وه)

ولې حقیقت دا دی، چې صفوي ځواکونه په ۱۱۲۴ ه کال د مشهد له لارې مخ په کندهار وخوځېدل.

میرویس خان هوتک د پوځي نوښت له مخې خپل جنګیالي په دوه ډلو ووېشل، د هلمند د رود شاوخوا سیمې یې د خسرو خان لښکر ته ونیولې، چې د هغه د پرمختګ مخه ډب کړي او نور جنګیالي یې د ابدالیانو پر وړاندې منظم کړل، چې د زمان خان په مشرۍ یې کندهار ته مخه کړې وه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانانو مشر له يوې خوا خپلو جنګياليو ته ووېل چې د کندهار د کلا دروازې وتړي او له بلې خوا په کلا کانو کې خپل نور جنګيالي داسې ځاې پر ځاې کړل، چې د مورچل په توګه تري کټه واخلي.

ميرويس خان هوتک د ابداليانو هغو مشرانو ته بلنه ورکړه چې ددولت خان له خوا دېته اړ شوي ول، چې ملتان ته کډه شي . دحيات سلطان زوې عبد الله خان او د هغه زوې اسد الله خان ډېر زر ځان کندهار ته ورسوو او د ابدالي ټبر جنګيالي يې په ځان راټول کړل او له خپلو غلجيو ورونو سره يو ځاې د خسرو خان د پوځ پر وړاندې ودرېدل.

زمان خان سدوزي هم د ملي احساس له مخې له خپل ترېبور عبد الله خان او د هغه زوې اسدالله سره خپل يو والى اعلان کړ او په کډه د صفوي ځواکونو پر وړاندې د جګړې ډګر ته راووتل.

زمان خان ابدالي په دې کار سره د خسرو خان ملاماته کړه، خو بيا هم هغه د کندهار ښار کلابند کړ.(١٧١٢ ز کال يوشمېرڅېړونکوته دتامل وړدی .)

د ميرويس خان جنګياليو، چې له يوې خوا د ښار دننه اوسپنيز مورچلي د ځان لپاره جوړې کړې وې، په صفوي ځواکونو يې مرګوني بريدونه پيل کړل او له بلې خوا د خلکو ملي مشر له ښاره د باندې، شپاړلس زره کسيز پوځ په شاوخوا کې جنګيالي جګړې ته چمتو کړي ول.

د کيخسرو جنګيالي هم د ښار دننه له سخت غبرګون سره مخ شول او هم له بهر نه له پښنين نه تر کندهاره پورې پښتانه او بلوڅ جنګيالي چې ځاې پر ځاې شوي وه هغوی تر سخت بريد لاندې ونيول شول او رښا ورځ يې پرې توره شپه کړه. له پوځي بريد نه پرته، ميرويس خان د خوراکي توکو د زخيرې بندو بست هم کړي وه، که څه هم هغسې هم د کندهار خلکو غلې دانې راټولې کړې وې، خو خسرو خان په دې جګړه کې د خوراکي توکو له ستونزې سره هم مخ شو.

لکه کروسنسکي چې ډاګيزه کړېده، «خسرو خان په عيش و عشرت او شراب کباب سره د منې په موسم کې کندهار کې ناست و، خوراکي توکو او توښې ته يې پام نه وو.»[١٠]

د خسرو خان د تېروتنې او د ميرويس خان د پوهې او هوډ له مخې د صفويانو ديرش (٣٠) زره کسيز پوځ له پښو وغورځول شو او د « جان ملکم »د څرګندونو له مخې، د صفويانو د ٢٥ زره کسيز پوځ څخه يوازې له پنځه سوه (٧٠٠-٥٠٠) څخه نيولی تر اوه سوه تنه له مرګه وژغورل شول اوان دا چې خسرو خان هم د ګورګين په برخليک اخته شو او له مينځه لاړ.

که څه هم په ١٧١٢ ز کال په بشپړه توګه کندهار خپلواک شو، خو بيا هم صفويانو د «رستم خان» په مشرۍ يو ستر پوځ کندهار ته راولېږه او داسې ماته يې وخوړه، چې نوموړی له وېرې، چې ونه وژل شي په ١٧١۴ کال بېرته پارس ته پر شا شو.

ميرويس خان په دې جګړو کې ډېر پوځي توکي، وسلې او پيسې له صفويانو نه ترلاسه کړل، چې نه رستم خان کوم برې ترلاسه کړ او نه هم محمد زمان خان قورچي باشي ، خوميرزا خليل په دې اند دی، چې نوموړی په «بسطام» کې ووژل شو.

له دغو پرلپسو جګړو وروسته، بيا صفويان د دې جوګه نه شول، چې د کندهار نيولو ته زړه ښه کړي او ميرويس خان د خلکو له خوا د ملي مشر په توګه وټاکل شو او مشرانوورته د «نيکه» لقب ورکړ.

که څه هم په دوديزه توګه، ميرويس نيکه د خلکو د سلا او مشورې له مخې سياسي، پوځي او ټولنيزې پرېکړې کولې، ولې په حقيقت کې ده د يوه پاچا په توګه پخپل نوم سکه ووهله او بيا يې خپل ګاونډي هېوادهندوستان ته خپل سفير واستوه، چې د ډيپلوماسي له مخې خپلې سياسي او سوداګريزې اړيکې له هغه هېواد سره ټينګې کړي.

تاريخپوه «هانوي» چې په لړتوپير د ميرويس نيکه معاصر وه، په څرګنده وايي، چې ده د پاداشاهي اعلان وکړ او د يوه فرمان له مخې سپارښتنه وکړه، چې دده په نوم سکه ووهل شي.»[١١]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله چې میرویس نیکه خپل وررور «حاجي امکو» د سفیر په توګه ډیلي ته واستوو، نو یو شمېر افغاني توکي یې هم له هغه سره د سوغات په ډول ډیلي دربار ته ولېږل اود هندوستان حکومت هم نه یوازې د میرویس نیکه حکومت په رسمیت وپېژند، بلکې د حاجي امیر خاني خطاب یې هم ورته وکړ.

دهند چار واکو د توري او فیل له سوغاتونو سره سره وسلې او پیسې هم د میرویس خان هوتک دربار ته د مجمع التواریخ دیادونې له مخې پنځه (۵) لکه روپۍ هم ورولېږلې.

میرویس خان لکه څرنګه چې په یوه مناسب وخت کې د خپلواکۍ ناره اوچته کړه، دارنګه ورسره نور پلانونه هم ول، چې هېواد یې په سیاسي، پوځي، اقتصادي او ټولنیزو چارو کې پرمختګ وکړي، ولې عمر ورسره ډېره وفا ونه کړه او په (۱۱۲۷ ه زیحجة الحرام ۲۸ مه نېټه) کال تر اته (۸) کلنۍ واکمنۍ وروسته د ۴۴ کلنۍ په عمر له دې نړۍ سترګې پټې کړې او په کوکران کې خاورو ته وسپارل شو.

**میرویس خان هوتک د یوه ځیرک انسان په توګه**

ډېروڅېړونکودې خبرې پخلی کړی دی چې میرویس خان په ۱۶۷۳ ز کال د شاه عالم خان په کاله کې د نازو انا له نسله وزېږید او د۴۴کالو په عمر ومړ.

له بده مرغه موږ ډېر سیاسي او ټولنیز شخصیتونه پېژنو چې د زوې کړې او مړینې کوټلي اوټاکلي نېټې یې څرګندې نه دي او لا تتې برېښي، نو ځکه خو د میرویس نیکه په تړاو هم داسې انګېرنې شتون لري ، چې دده عمر د ۴۲ کلنۍ نه راواخله تر ۴۵ کلنۍ پورې اټکلېدلی شي.

په هر حال میرویس نیکه یو ځیرک او د سیاسي پوهې درلودونکی انسان و، چې د دوه سترو زبر ځواکو حکومتونو په مینځ کې، چې افغانستان د هند ګورګانیانو او د پارس صفویانو پخپلو کې وېشلی وو، د خپلواکۍ ناره پورته کړه او خپل هېواد یې د صفوي شاه حسین له ولکې نه ازاد کړ.

د میرویس خان هوتک په اړه بیلابیل څېړونکي او تاریخپوهان داسې انګېري:

۱- د میرویس نیکه یوه ستره سیاسي ځیرکتیا دا وه، چې د خلکو په ملاتړ یې درې لوې جرګې له خپل ولس سره وکړې، چې خلک د ګورګین پر وړاندې پاڅون ته وهڅوي او هغه فتواوې، چې د حج د ادا په مراسمو کې ترلاسه کړې وې خپل مسلمان ولس ته په مخکې کېږدي او په هغو کې یوه سیاسي پوهاوی اوجذبه وپاروي.

۲- تاریخپوه خافي خان ، کلنل ملیسون (د افغانستان په تاریخ کې) او نورو د وخت پیښې راغبرګې کړې، چې میرویس خان د خپلې سیاسي پوهې او ځېرکتیا له مخې څرنګه ګورګین له مینځه یووړ، صفوي او ډیلي درباریان یې هک حیران کړل، چې یوه سیمه ییز واکمن د کومې ځواکمنتیا له مخې داسې ستر تاریخي کار ته ملا وتړله چې هېواد یې خپلواک کړ؟

ملیسون، جان ملکم او یو شمېر نور څېړونکي ټینګار کوي، چې میرویس خان د ګورګین له وژلو وروسته په ډېرې هوښیارۍ صفوي دربار تېرویست او خپل استازي محمد جامي خان ته سپارښتنه وکړه، چې موږ د ګورګین وینه بخښو، خو میرویس خان دې زموږ ځواکونه ومني.

۳- د میرویس خان پیاوړی دریځ او سیاسي ځیرکتیا وه، چې د مجمع التواریخ په وینا د کندهار ننګیالیو او مېړنیو د صفوي برید ګرو مېنه سپېره کړه مجمع التواریخ د دې خبرې پخلی هم کړی دی، چې د میرویس خان هوتک د واک برید او پولې له کندهاره راواخله تر فراه، سیستان، شین ډنډ (سبزوار)، همغسې تر پښین، د سلیمان د غره تر لمنو، زابل او ان د غزني تر مقره پورې رسېدې.

۴- دی یو ځیرک دېپلومات وه، چې د سیمې هېوادونو په سر کې له هند سره ښې اړیکې غوښتلې، چې سیاسي او سوداګریزې اړیکې پرمختیا ومومي. نو ځکه خو میرویس خان د اورنګ زیب زوې ته چې د کابل واکمن وه یو بل لیک واستوو او ورته لیکلی ول، چې په راتلونکې کې د پارس پر ضد پاڅون وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کروسنسکي هم دده د ځیرکتیا پخلی کړیدی او کښلي یې دي، چې په افغان قبایلو کې میرویس خان د باور او درنښت وړ کس دی، چې افغانان ورته ډېر درناوی لري. د ځانګړي دب دبې او تجربې خاوند او یو سیاسي ماهر یې ګڼلی شو.

د کروسنسکي په وینا دی یو راز ساتونکی انسان وه، د ژور فکر ښښتن او نه وېریدونکی کس یې بللی شوچې دخپلې پوهې له مخې واک ته ورسېد .

۵- لاکهارت د میرویس د سیاسي درنښت په اړه کاږلي دي، چې دی د پام وړ کس او د سیاسي نیرنګ ښښتن وه. دده په ځغرده دا هم وېلي دي چې ځان یې د صفویانو له غلامی ازاد کړ او افغانانو ته یې خپلواکي وګټله.

۶- میرویس خان په سیاسي لحاظ شیر شاه سوري سره د پرتلې وړ دی. سوري شیر شاه په ډېرې ځیرکتیا خپل ځان د بابر له ګواښ نه وژغوره او د ولس پر مټ برې ته ورسېد. . .

میرویس خان هم په ډېرې هوښیارۍ لومړی ځان صفوي دربار ته نږدې کړ، ځان یې د هغوئ له بنده ازاد کړ، کندهار ته راغی او د خپلو خلکو په ملاتړ یې ګورګین له مینځه یووړ او هېواد یې ازاد کړ.

۷- میرویس خان د خپل ژوند په پای کې وصیت وکړ او د کروسنسکي په اند ده ووېل، لومړی ستاسو چارې ښښتن تعالی ته سپارم، دویم د ښمن پر وړاندې جهاد وکړئ. دریم ټول باید خپل اتفاق او یو والی ټینګ کړې او دښمن ته سر ټیټ نکړئ. دغه د «عجم» حاکمان غوارې تاسې پخپلو کې بې اتفاقه کړي . که چېرې تاسې په الله توکل وکړئ بنایي اصفهان ونیسي.»[۱۲] ده دا وینا وکړه او بیا یې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

میرویس خان په کندهار کې ومړاود« هانوي » دخرګندونوله مخې(له ۴۳—۴۶مخ پورې ) میرویس خپل ځان پاچا کړاوامر یې وکړچې سیکه دده پنوم شي .» داسې په یوه شعرکې ددې خبرې پخلی او یادونه هم شوې ده،چې لا په بشپړه توګه داخبره سپینه شوې نه ده !؟

سکه زد بردرهم دارالقرار قندهار

خان عادل شاه عالم میرویس نامدار

دکندهاردهوتکیانو،په تهران کې دصفویانومعاصرکروسینسکي ددوئ په اړه ډېر څه لیکلي دي،چې دده په لیکنوهرڅا شخوند وهلی دی ،«هانوي » هم دده له لیکنې استفاده کړې ده ،چې په یوه حساب په لړو ډېر توپیردی هم ددې دور معاصر ګڼلی کېږي .

ده په ۱۷۵۳کال دهوتکیانوپه اړه یو کتاب لیکلی دی: the chronikles of a traver introduction. P. 17 چې د«جنګ افغان وفارس » پنوم ترجمعه شوی هم دی ، دهمدې څرګندونوپه رڼا کې ،

«هانوي » دمیرویس نیکه دسکې یادونه کړې ده اوشاو خوا دوه سوه کاله وروسته وی،چې ګڼې شیخ المورخین دمیرویس نیکه سکه پیدا کړه ،خو انګرل کېږي چې شیخ المورخین اوخلیلي همغه دهانوي یادونه یې ژباړلې ده ... ددې خبرې مانا داچې داخبره تراوسه نه ده سپینه شوې،چې داسکه رښتیا ده او کنه ؟په دې تړاو په بشپړه توګه یوې غوښنې څېړنې ته اړتیا ده !؟

---

) کروسنسکي، د مسیحي سلاني تاریخ ۵۱ مخ[۱]

) مجمع التواریخ ۴ مخ[۲]

) افغانستان در مسیر تاریخ ۳۱۹ مخ[۳]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

) کروسنسکي ۵۲-۵۳ مخونه[۳]

) کروسنسکي ۵۵ مخ[۵]

) جي مليس د افغانستان تاريخ ۸۷۹ د لندن ۲۲ مخ[٦]

) افغانان له بارس نه.......۳۵۹ مخ[۷]

) تاريخ سلفاني، بهبي چاپ ۱۸۸۱ کال ۷۳-۷۰ مخونه[۸]

) کروسنسکي ۵۸ مخ[۹]

) همدغه اثر ۶۴ مخ[۱۰]

) هانوي د ايران تاريخ د سرجان ملکم اثر لندن چاپ ۱۸۱۵ کال لومړي ټوک ۵۷ مخ[۱۱]

) کروسنسکي ۶۵ مخ[۱۲]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ